**د يهودي بنسټ له لوري نوی اساسي قانون « د يهودي وګړو ملي دولت» تر سرليک لاندې نافذ شو**
**نوی اساسي قانون د فلسطيني وګړو پر وړاندې د جنايتونو يو نوی باب پرانيزي**




**خبر:**

د سه شنبې او چهارشنبې په ماښام د اسرايلو پارلمان، کنست(Knesset) تر لانجمنو او اوږدو بحثونو وروسته په رسمي توګه قانون تصويب کړ، چې پکې اسراييل يې د يهودو ملي دولت اعلان کړ. د قانون مسوده له دويم او دريم ځل بحث وروسته په ۶۲ موافقو، ۵۵ مخالفو او ۲ سپينو رايو سره تصويب شوه.
دغه قانون د لمړي ځل لپاره اسراييل د « يهودي وګړو ملي کور» په توګه اعلانوي. نوموړی قانون د اساسي قانون په توګه قضايي نظام لري او په عادي ډول ډېره ګرانه ده، چې د عادي قوانينو په پرتله لغوه شي. سرچينه:(Times of Israel)

د قانون تر نافذېدو وروسته، د اسراييلو لومړي وزير بينيامين نتنياهو وويل: «دا د صهيونيزم او اسراييلي دولت لپاره يوه تاريخي شېبه ده. موږ د خپل دولت د بقا لپاره بنسټيز اصول روښانه کړي دي». او زياته يې کړه، چې «اسراييل د يهودي وګړو لپاره ملي دولت دی». د نوي قانون له مخې به اسراييلي ټولنو ته د هغوی د پرمختګ لپاره امکانات برابرېږي. له هغو خلکو سره به مرسته کېږي، چې غواړي له فلسطينيانو څخه په نيول شويو ځمکو کې نوې ودانۍ جوړوي. سرچينه:(NY times)

**تبصره:**

د جنايتکاره غاصب يهودي دولت له لوري د نوي تصويب شوي قانون په مرسته به د فلسطيني وګړو او د دوی د ځمکو پر وړاندې جنايت کارو تګلارو ته به لا زيات واک ورکړل شي. له يوه اړخه، د فلسطين نږدې مسلمان ګاونډي رهبران يو له بل سره سيالۍ کوي، چې له دغه جنايتکار دولت سره خپل مناسبات عادي حالت ته راولي او له دغه غاصب بنسټ سره د سولې تر نامه لاندې خبرې ګړندۍ کړي. خو له بله اړخه بيا اسراييلي پارلمان د نتنياهو په بشپړ ملاتړ سره داسې قانون تصويب کړ، چې د فلسطين په سپېڅلې خاوره کې يهودان راټول او ساتنه يې وکړي. دا به په ربښتيا سره د فلسطين پر هغو وګړو چې په ۱۹۴۸ او ۱۹۶۷ کلونو کې يې ځمکې غصب شوي، ژور اغېز وکړي او د هغو فلسطيني وګړو ژوند به لا تريخ کړي چې هلته ژوند کوي. يهودي بنسټ پر توکميز او تعصب ولاړ قانون څخه په ګټې اخيستنې سره هڅه کوي چې فلسطينيان له خپلې محبوبې خاورې څخه وشړي، خو يهودي ځواکونو

د فلسطینیانو ارادې نه دي سستې کړي، بلکې هوډمن پاتې شوي او د دوی بریدونو فلسطینیان له کورونو څخه ایستلو ته نه دي اړ کړي. اوس یهودي بنسټ په رسمي توګه له توکمیزو او تاوتریخوالي څخه ډکو لارو چارو او مفکورو څخه ګټه اخلي، چې د فلسطینیانو په اړه بشري او د عدالت غوښتنې ادعاوې تر پښو لاندې کړي، دوی دویمه درجه خلک وګڼي، پر وړاندې یې وحشي بریدونه ترسره کړي او خپلې دغه ټولې کړنې سپېڅلې وګڼي او قانوني رنګ ورکړي.
همداراز، دغه نوی قانون یهودي دولت ته اجازه ورکوي، چې په لوېدیځه ټرانګه کې له فلسطینیانو څخه په جبر د ځمکو نیولو او په ناقانونه توګه پکې ودانۍ جوړولو ته پراختیا ورکړي. د فلسطینیانو له حقونو څخه د دفاع او له ښکېلاک څخه د بشپړې فلسطینۍ خاورې د ازادۍ په موخه د اسلامي خاورو ډارن مزدور چارواکي لښکرې نه لېږي. د فلسطین دغو بې شرمو چارواکو، نه دغه نافذ شوی قانون وغنده او نه یې هم پرې نیوکه وکړه او په ډېر صبر سره پر فلسطیني وګړو د دې قانون د پایلو په تمه دي.
نتنیاهو به د دغه قانون د نافېذېدو له لارې د « یهودي وګړو ملي دولت» تر سرلیک لاندې د فلسطیني وګړو پر وړاندې خپلو جنایتونو ته ادامه ورکوي، دا قانون به د ده جنایتونو ته مشروعیت ورکړي او تر څنګ به یې د اسلامي هیوادونو د پوځیانو لپاره د خطر یو لوی زنګ وي. د اسلامي هیوادونو پوځیان څه ډول چوپ پاتې کېدای شي، په داسي حال کې چې د نوموړي قانون له مخې به یوازې د جنایتکار بنسټ د جنایتونو کچه لا نوره هم زیاته شي. پر غزې له یرغلونو، هوایي بریدونو او پر بې‌ګناه فلسطیني وګړو باندې د لېږزي ډزو څخه نیولې ان د زیتون تر ونو او ځمکو سوځلو، د مېرمنو او ماشومانو تر ناروا نیونو او رېړونو پورې، لا نور څه د اسلامي هیوادونو د پوځیانو راویښېدو ته په کار دي؟

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: منال بدر**

**ژباړن: حمزه خالد**